# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د غبرگولي ۲٦مه | د ۲۰۲۰ د جون ۱۵مه | ۵۵۰مه گڼه


## ولایت

۴ مخ

### د کندهار پېژندنه

کندهار پراخې دښتې او د لويو غرونو سلسلې لري، ابادو ځمکو او سمسورو باغونو يې هم اقتصاد او هم ښکلا ته گټه رسولې ده.



### لندن مېشتو افغان ټولنو په هېواد کې له بېوزلو کسانو سره د مرستې لړۍ پيل کړه



په افغانستان او انگلستان کې يو شمېر افغانانو او د خيريه ټولنو مسوولينو د کرونا پر مهال له بې وزلو خلکو سره د مرستو راټولولو او بيا يې د وېشلو لړۍ پيل کړې ده.

د اکيرا په نامه د يوه خيريت بنسټ له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې له دوی سره شاوخوا ۳۰ خيريه بنسټونه او سازمانونه ثبت دي.

سرچينې زياته کړې چې د کرونا وبا له امله افغانستان او افغانان ډېر زيات متضرر شوي او په همدې موخه دوی غواړي چې له بې وزلو هېوادوالو سره مرستې وکړي.

په خبرپاڼه کې راغلي چې دوی په انگلستان او نورو سيمو کې مرستې راټولوي او بيا يې په افغانستان کې د احساس خيريه بنسټ په مرسته پر بې وزلو وېشي. سرچينې ويلي چې دوی د مرستو دا لړۍ پيل کړې او پرون يې د کابل ښار په څلورمه ناحيه کې پر څينو مستحقو کورنيو مرستې ووېشلې.

# کرونا ضد مبارزه او نوي پورونه؛

## شنونکي: د فساد په موجوديت کې د پور اخيستل د انديښنې وړ دي



۳

د بين الافغاني خبرو پر وړاندې خنډونه لرې شوي؟

۲ مخ

د سعودي د تېلو کيسه؛ دا شتمني به تر څه وخت دوام وکړي؟

۲ مخ

چگونگی و اهداف سفر جنرال باجوه لوی درستيز پاکستان به کابل

۳ مخ

## دانش: گاونډي هېوادونه دې له کړکېچ زېږوونکو سياستونو څخه ډډه وکړي

د ايران بهرنيو چارو وزارت له خوا په تهران کې دغه وزارت ته د افغان سفير له احضارولو وروسته د جمهوري رياست دويم مرستيال سرور دانش له خپلو گاونډيانو څخه له افغانستان سره د نړيوالو قوانينو او درناوي ډک چلند غوښتنه کړې ده.

دانش پر خپل ټوېټر ليکلي: «موږ په کلکه له هغو غواړو چې د هر ډول کړکېچ زېږېدونکي سياست څخه ډډه وکړي، موږ په بشپړه توگه کولی شو خپلې مسئلې د خبرو او يو بل ته د درناوي له لارې هوارې کړو».

دا په داسې حال کې ده چې د ايران د بهرنيو چارو وزارت د شنبې په ورځ په ايران کې افغان سفير په کابل کې د يو شمېر لاريون کوونکو له خوا د ايران سفارت پر وړاندې د اعتراض له امله چې ايراني چارواکو «د سپکاوي اقدام او تعرض» گڼلی، دغه وزارت ته ورغوښتی و.

د ايراني دولتي رسنيو د راپور له مخې، د ايران د بهرنيو چارو په وزارت کې د لوېديځې اسيا د چارو مسوول سيد رسول موسوي له افغان سفير عبدالغفور لېوال سره په کتنه کې د خپل هېواد ژوره انديښنه هغه ته څرگنده کړې وه.

موسوي په کابل کې د ايران سفارت مخې ته د لاريون کوونکو اقدام د يو شمير محدودو کسانو ناسم اقدام گڼلی و او د دواړو هېوادونو پر اړيکو يې د اغېزو په اړه څرگندونې کړې وې.

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د کابل او يو شمير نورو ښارونو اوسېدونکو په ايران کې له افغان کډوالو سره د ايراني امنيتي ساتوونکو د چلند او په ځانگړې ډول د افغان کډوالو موټر ته د اور اچولو پېښو د غندنې لپاره لاريونونه کړي دي. لاريون کوونکو د ايران حکومت د بشري حقونو څخه پر سرغړونې هم تورن کړی و.

## په قطر کې د بين الافغاني مذاکراتو د لومړۍ ناستې په تړاو هوکړه شوې ده



۵ مخ

## شورای تاجران: به دليل مسدود بودن دروازه پاکستان به تاجران افغان بيش از ۱۰۰ ميليون دالر زيان رسيده است



شورای تاجران افغانستان می‌گويد به دليل مسدود بودن دروازه پاکستان به‌روی صادرات افغانستان، بيش از ۱۰۰ ميليون دالر به تاجران و دهقانان زيان رسيده است.

رحم‌الدين حاجی‌آغا، رئيس اين شورا به راديو آزادی گفته است حالا که فصل رسيدن ميوه تازه است، پاکستان مرز خود را در سپين بولدک به روی صادرات افغانستان بسته و تاجران را با چالش‌های زيادی روبه‌ور کرده است.

او افزود که حالا از بندر سپين بولدک و تورخم تنها واردات صورت می‌گيرد که روزانه بين ۴۰ تا ۵۰ محموله تجاری وارد افغانستان می‌شود، اما از چهار ماه به اين طرف صادرات افغانستان به پاکستان متوقف است.

آقای حاجی‌آغا تأکيد کرد که اگر اين مسير به روی توليدات و کالاهای افغانی باز نشود، تاجران با مشکلات بيشتری روبه‌رو خواهند شد. اين در حالی است که چند روز قبل تاجران افغان با مسئولان سفارت امريکا در نشست مشترک در باره اين موضوع صحبت کردند.

در اين ديدار معاون سفارت امريکا گفته بود که در اين مورد با سفارت پاکستان در کابل و حکومت پاکستان گفت‌وگو می‌کند، اما به گفته تاجران افغان، اين مشکل تا به حال حل نشده است.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## دریـځ

### د بين الافغاني خبرو پر وړاندې خنډونه لرې شوي؟

ویـل کېږي چې د جـون پـه پـای کـې بـه د سولې بیـن الافغـاني خبرې پیـل شي. کـه څـه هـم تـاکل شـوې وه چـې د جون پـه ۱۵مه لومړنـۍ بیـن الافغـاني خبرې وشي، خـو د طالـب بندیانـو نـه خـوشي کېـدو او ځینـو نـورو ستونزو د دې خبرو پیـل وځنـډاوه. اوس هـم د جـون پـه پـای کـې د رسمي خبـرو د پیـل پر ځـای د لومړنۍ ناستې او لیدنـې خبره کېږي، خـو ایـا سـتونزه حـل شـوې ده او د سـولې پـر وړانـدې شـته خنډونـه لـه منځـه تللـي دي؟

د بیـن الافغـاني خـبرو د پیـل پـر وړانـدې دوه سـتر خنډونـه وو. لومړنـی خنـډ دا و چـې د هوکـړې لـه مخې د خـبرو تر پیـل وړانـدې باید پینځـه زره طالـب بندیـان خوشـې وی، خـو خوشـې نـه شـول. دویم خنـډ دا و چـې طالبانو نـه منلـه چـې د افغانستان له حکومت سره به خـبرې کـوي. اوس دا دی تـر دریـو زرو پـورې بندیـان خوشـې شـوې دي او حکومـت وایـي چـې دوه زره نـور طالـب بندیـان به هم خوشـې کـړي. دا د خلیلـزاد له وروسـتي سـفر سره سـم د حکومـت پـه دریـځ کـې یو لـوی بدلـون و. کـه حکومـت پـر خپلـه خـبره او ژمنـه عمـل وکـړي او پاتـې بندیـان هـم خوشـې کـړي، نـو د بیـن الافغـاني خـبرو پـر وړانـدې یـو لـوی خنـډ لـرې شـوی دی.

د دویـم خنـډ پـه اړه لا وضاحـت نشـته. طالبانو پخـوا ویـلي وو چـې دوی لـه یـوه افغـاني پلاوي سره خـبرې کـوي چـې حکومـت یـې هـم یـوه برخه وي. اوسـنی پلاوی حکومـت اعلان کـړی، خو وایي چې د سیاسي ګوندونو، مدني ټولنې او ښځو استازي هـم پکـې شـته. کلـه چـې دا پـلاوی اعـلان شـو، طالبانـو رد کـړ او ویـې ویل چـې سیاسي ګوندونـه او مختلـف اړخونـه لـه دې پـلاوي سره مخالـف دي، نو ځکـه دوی هم ورسره خـبرې نه کـوي. په دې اړه د طالبانو تازه دریـځ نشـته، چـې ایـا دوی پـر خپلـه پخوانـۍ خـبره ولاړ دي او کـه دریـځ یـې بـدل شـوی او لـه همدغـه پـلاوي سره خـبرې کـوي. طالبـان تـر فشـار لانـدې وو چـې لـه همدغه پـلاوي سره خـبرې وکـړي، خـو ویل کېږي چـې طالبانو په پـلاوي کـې د ځینـو بدلونونو غوښـتنه کړې ده. اوس کـه حکومـت پـر همـدې پـلاوي ټینـګار وکـړي او طالبـان ورسره خـبرې ونه منـي، نو بیا خـو سـتونزه نـه ده حـل شـوې او بیـن الافغـاني خـبرې بـه همداسـې لـه خنـډ او ځنډ سره مخ وي. ویـل کېږي چې داسـې یوه هڅـه هم روانه ده چـې حکومـت په همـدې پلاوي کـې بدلون راولي، ښـایي ځینې کسـان پکـې زیات کړي او بیـا لـه هغـه وروسـته هغـه سـیاسي اړخونه چې پخـوا یـې د دې پلاوي مخالفت کـړی و، له دې پـلاوي رضایت وښـیي، نو طالبـان به هم حاضر شي چـې لـه دې پـلاوي سره خـبرې وکـړي او بیـن الافغـاني خـبرې پیـل شي. د خلیلـزاد د ورسـتي سـفر یو اسـاسي هدف هم همـدا ګڼل شـوی او ویـل شـوي چـې پرمختګونه هـم پکې شـوې دي.

د بیـن الافغـاني خـبرو پیـل خـورا مهم دی او خلـک یـې غوښـتنه کـوي. پـه دې برخـو کـې لـه دوو خنډونـو یـو یـې د حـل کېـدو په درشـل کـې دی او حکومـت بایـد دا خنـډ لـرې کـړي. د دویـم خنـډ د لـرې کولـو لپـاره بایـد طالبـان او حکومـت دواړه انعطـاف وښـیي، چـې ژر تـر ژره بیـن الافغـاني خبرې پیل شي او رېښـتیني سـولې تـه لاره هـواره کـړي.

# د سعودي د تېلو کیسه؛

## دا شتمني به تر څه وخت دوام وکړي؟

بي بي سي- پښتو

له هرڅه د مخه دوې پوښتنې، د تېلو لپاره لومړی ځل کېندنې چېرې وشوې؟ او دویمه دا چې په اټکلیز ډول په نړۍ کې کوم هېواد د خامو تېلو تر ټولو لویې زېرمې لري؟ که له دغو پوښتنو هرې یوې ته ستاسې ځواب سعودي عربستان وي، نو تاسې تېروتي یاست.

تر ټولو مخکې په چین کې په څلورمه پېړۍ کې د تېلو لپاره کیندنې شوې وې. د دې کیندنو لپاره هېڅ ماشینونه نه وو او دا کیندنې یې د اوږدو-اوږدو بانسونو پرمټ کولې. په پایله کې یې توره سرېښناکه ماده ایستله چې وروسته یې دا ماده بیا د سون توکو په توګه کاروله.

د تېلو صادروونکو هېوادونو سازمان یا اوپېک د ۲۰۱۸ ز کال د پای شمېرو پر بنسټ تر ټولو زیات اومه یا خام تېل په لاتینه امریکا او وینزویلا کې دي، همداسې په دویم پړاو کې سعودي او په دریېم نمبر کې ایران راتلی شي.

وینزویلا ۳۰۲.۸۱ میلیارده بېرله د تېلو زېرمې لري، په داسې حال کې چې په سعودي عربستان کې د تېلو د زېرمو دا شمېر ۲۶۷،۰۳ میلیارده بېرلو ته رسېږي. ایران د ۱۵۵،۶۰ میلیارده بېرله تېلو د زېرمو په درلودو سره په دې کتار کې دریېم ځای لري او عراق د ۱۴۵،۰۲ میلیارده بېرله د تېلو د زېرمو له پلوه څلورم دی.

د وروستیو اټکلونو پر بنسټ اوپېک سازمان په نړۍ کې ۷۹،۴ سلنه د تېلو زېرمې لري، چې ډېری یې په منځني ختیځ کې دي.

په سعودي کې تېل څه وخت وموندل شول؟

په سعودي کې د لومړي ځل لپاره په ۱۹۳۸ ز کال د مارچ په میاشتکې په دمام سیمه کې یوې امریکایي کمپنۍ د ۱۴۴۰ متره ژوروالي نه تېل وایستل.

دا امریکایي کمپنۍ د کلیفورنیا د تېلو د معیاري شرکت په نوم یادېده. مخکې یې نوم د کلیفورنیا د عربي معیاري تېلو شرکت و چې وروسته د تېلو عربي امریکایي شرکت (ارامکو) په نوم یاد شو. هلته د تېلو کېندنه او سروې په ۱۹۳۵ ز کال کې پیل شوې وه، خو تولید یې بیا په ۱۹۳۸ ز کال کې د دمام له ۷مې شمېرې سیمې څخه پیل شو. له تاریخي پلوه له دغه ځایه د تېلو لومړی ټانکر په ۱۹۳۹ ز کال کې ډک او صادر شو. هماغه وو چې سعودي عربستان په اقتصادي ډګر کې ودې ته مخه کړه.

د سعودي ارامکو شرکت څه وخت جوړ شو؟

په ۱۹۴۹ ز کال کې د امریکایي کمپنیو یوې ډلې ارامکو په ورځ کې ۵۰۰۰۰۰ بېرله خام تېل تولیدول. په ۱۹۵۸ ز کالکې ارامکو شرکت په یوه کال کې له یو میلیون بېرلو زیات خام تېل تولید کړل او همدا لامل و چې ارامکو د سعودي عربستان پر تېلو خپل کنټرول زیات کړ. بالاخره په ۱۹۸۸ ز کالکې سعودي عربستان پرېکړه وکړه چې د تېلو له اړخه خپله ټوله شتمني له امریکایي کمپنیو واخلي او په ۱۹۸۸ ز کال کې یې د سعودي عرب د تېلو کمپنۍ یا سعودي ارامکو په نوم خپل شرکت جوړ کړ.

د سعودي له پرېښودو وروسته د دې امریکایي شرکت څښتنانو ځان ته د شورون، ټیکساکو او ایګزون په نوم د تېلو کمپنۍ یا لوی شرکتونه جوړ کړل.

پر ارامکو کنټرول او شاه فیصل

سعودي عربستان د ۱۹۳۲ ز کال د سپتمبر پر ۲۳ مه تاسیس او شاه عبدالعزیز یې لومړنی پاچا شو او دی د تېلو د تولید پر مهال د سعودي حاکم و. په ۱۹۵۳ ز کال کې چې عبدالعزیز مړ شو، نو شاه سعود یې ځایناستی شو او دی بیا د خپل ورور فیصل له لوري په ۱۹۶۴ ز کال کې له واکه لرې کړای شو او خپله د واک پر ګدۍ کېناست.

دغه راز په ۱۹۷۲ ز کال کې د شاه فیصل په پېر کې په لومړي ځل سعودي عربستان ۲۰ سلنه «ارامکو» خپل لاس ته راوست.

په ۱۹۷۳ ز کال کې د شاه فیصل په مشرۍ سعودي عربستان هغو لوېدیځو هېوادونو ته د تېلو اکمالات بند کړل چې له اسراییلو سره یې د مصر او سوریې په خلاف جګړه کې مرسته کوله. سعودي عربستان اړ شو چې د تېلو بیه په ناڅاپي ډول څلور چنده زیاته کړي.

څو په زړه پورې حقیقتونه

پېټرولیم په لاتیني ژبه کې له دوو ټکو جوړ دی چې یو (پېټرو) او بل (ولیم) دی. د (پېټرو) مانا تېږه یا کاڼی دی او د (ولیم) مانا تېل دي.

په ۱۸۹۰ ز کال کې د تېلو د تولید له کبله په پراخه کچه د ګاډو جوړولو پیل شول. په نوي عصر کې تر ټولو مخکې په امریکا کې په ۱۸۵۹ ز کال کې تېل وایستل شول. د ۱۸۵۹ ز کال د اګسټ په ۲۷مه ډګروال ایډورډ ډریک د امریکا په پنسلوانیا کې د تېلو زېرمې د ۱۲متره په ژوروالي کې وموندلې.

د ۱۹۷۵ ز کال د مارچ په ۲۵مه شاه فیصل د خپل ناسکه وراره فیصل بن مساعد له لوري په یوه غونډه کې په ډزو ووژل شو، هغه په دې وخت کې له خپل وراره سره په غېږه روغبړ کاوه. فیصل بن مساعد له دې قتل څخه د مخه په امریکا کې اوسېده او هلته تر څه وخت تېرولو وروسته بېرته خپل هېواد ته ستون شوی و. په همدې کال د جون په ۱۸ مه نېټه د شاه فیصل د قاتل فیصل بن مساعد سر پرې کړای شو. له شا فیصل وروسته د ده ورور خالد د سعودي پاچا شو.

د سعودي عربستان د تېلو زېرمې؛ څه رښتیا او څه دروغ؟!

اوسمهال له سعودي عربستان سره د نړۍ ۱۸ سلنه د تېلو زېرمې شته او د تېلو د تولیدوونکو هېوادونو په لومړي کتار کې راځي، خو له دې سره سره، دا پوښتنه هم راپورته کېږي چې ایا د شته زېرمو دا شمېرې ښېخي سمې دي او که څنګه؟

د تېلو د زېرمو چارو پوهانو لپاره په تېرو پنځو لسیزو کې د دې پوښتنې ځواب یو راز دی. د تېلو تولیدوونکو هېوادونو یا اوپېک سازمان د ۲۰۱۵ ز کال د شمېرو له مخې، له سعودي عربستان سره د تېلو ۲۶۷ میلیارده بېرله زېرمې شته دي. که دا شمېرې سمې وي، نو بیا خو به د دغه هېواد د تېلو کچه په راتلونکو ۷۰ کلونو کې ختمه شي. د دې محاسبې لپاره اوسط ورځنی لګښت ۱۲میلیونه بېرله اټکل شوی دی، خو په هر حال د تېلو په اړه د سعودي د شمېرو په اړه شکونه شته.

د دې لامل دا دی چې په ۱۹۸۷ ز کال کې سعودي عربستان د خپلو زېرمو په اړه ویلي وو چې ۱۷۰ میلیارده بېرله دي. په ۱۹۸۹ ز کال کې دوی د دې بېرلو شمېره لوړه او ۲۶۰ میلیارده بېرلو ته یې ورسوله. په ۲۰۱۶ ز کال کې د نړیوالې انرژۍ د شمېرو له مخې، سعودي عربستان تر اوسه ۹۴ میلیارده بېرله تېل پلورلي دي. په داسې حال کې چې د دوی د حکومتي سرچینو له مخې، له سعودي سره له ۲۶۰ تر ۲۶۵ میلیارده بېرله تېل شته.

که حکومتي مالومات سم وي، نو د دې مانا دا ده چې یا خو سعودي عربستان د تېلو نوې زېرمې موندلې دي او یا به یې بیا څېړنه کړې وي او له مخکینیو زېرمو سره به یې ګډ حساب کړې وي.

د زېرمو زیاتوالی په دې مانا دی، چېرې چې تېل تولیدېږي، هلته له ځاګانو غوړ ډېر راوتلي او یا دا چې هغه کوهیان بیا ډک شوي دي.

په سعودي عربستان کې د ۱۹۳۶ او ۱۹۷۰ ز کلونو ترمنځ د تېلو بې شمېره زېرمې وموندل شوې، خو له دې وروسته نورې نه دي موندل شوې.

# د بين الافغاني مذاکراتو په لار کې پراته خنډونه!

لیکنه: رشید احمد حقپال

مخکـې لـه دې چـې د سـولې پـر موانعـو وغږېږو، لومـړی د تـړون پـه اړه سرسري خـبرې کـوو:

امریـکا مخکـې ویـلي وو چـې غـواړي پـه افغانسـتان کې خپله ۱۸ کلنه اوږده جګړه پای ته ورسـوي او افغانان نور د افغانسـتان پـه سـیاسي راتلونکي سره جـوړ راشي.

د امریـکا د بهرنیو چـارو وزیر مایک پامپیود په اسـترالیا کې و او هلته یې د افغانسـتان پـه اړه د امریـکا د دریـځ پـه اړه وویـل: «د امریـکا ولسـمشر ډونالـډ ټرمپ واضح کړه چـې غـواړي یـوه ډیپلوماټیکه حللاره پیدا کـړو چـې پـر مټ یـې پـه افغانسـتان کـې خپـل پوځـي حضـور کـم او لـه دې سره په یـو وخـت کـې دا ډاډ هـم حاصل کـړو چې افغانسـتان بیـا د ترهګـرو پـر ځـای بـدل نشي.»

طالبـان او زلمـي خلیلـزاد پـه دوحـه کـې د پرېکـړې نهایـي کېـدو تـه نـږدې شـوي وو، چـې د طالبانـو د سیاسي دفتـر ویاند سـهیل شـاهین په خپل ټویټ کې څرګند کـړي وو چـې کـه د امریـکا او طالبانـو تـر منـځ هوکـړه لیـک نهایي شـوه، ورسره سم بـه امریکایـان له افغانسـتان نه وځـي او له دې سره بـه زمـوږ او افغان لـوري د خبرو په لار کـې دا خنـډ لـه منځـه لاړ شي.

همدا و چـې د امریکا او طالبانـو تر منځ د سـولې تـړون د ۱۳۹۸ کال د کـب پـه ۱۰ مـه لاسـلیک شـو او لـه تـړون سره سـم بـه وروسـته تـر دې د بیـن الافغـاني مذاکراتـو د پیـل وار را ورسـېږي، تمـه وه چـې کـه دا پـړاو سرتـه ورسـېږي، نو افغانان به بشـپړې سـولې تـه لاره پیـدا کـړي.

د مذاکراتـو پیـل بیـا هـم مشروط و، چـې کله بشـپړ شي، خپلمنځي خبرې اترې به د سـولې د بهـیر اړونـد وشي، د دې پړاو د بطـي کېـدو یـو کوچنی لامـل کوویـډ- ۱۹ هم کېـدای شي.

پـه وروسـتیو کـې ویـل شـوي چـې بیـن الافغـاني مذاکـرات بـه ژر په قطـر کې پیل شي. د رسـنیو د راپورونو سره سـم، د روژې پـه میاشـت کـې د طالبانـو د رهبري شـورا موافقـه کـړې چې بیـن الافغـاني مذاکرات دې پیـل شي او د یادې په شـورا وروسـتۍ ناسـته کـې پرېکـړه شـوې چـې د بیـن الافغـاني مذاکراتـو پـر اجنـډا دې هـم کار وشي.

امنیـت شـورا ویـلي وو چـې د طالبانـو یـو تخنیکـي ټیـم پـه کابـل کـې دی تـر څـو د حکومـت لـه تخنیکي ټیـم سره د بندیانو د خلاصـون پـه تـړاو خـبرې وکـړي.

د روان میـلادي کال د جـون د میاشـتې پـه نهمـه د مصالحـې شـورا مـشر عبدالله عبدالله ویـلي، چـې د بیـن الافغـاني مذاکراتـو د پیـل تـر نېټـې پورې هڅـه کوو چـې ټـول (۵۰۰۰) طالـب بندیـان ازاد او یـا هـم دومره شـمېر له زندانـو خوشي شي چـې د دواړو لـورو پـرې موافقـه راشي.

همدارنګـه د بیـن الافغـاني مذاکراتـو لـه پیـل څخه مخکـې باید پورته شـمېر طالب بندیـان او ۱۰۰۰ تنـه حکومتـي بندیان له زنـدان نـه ازاد شي.

افغـان دولـت وایـي هڅـه کـوي چـې د سـولې د پروسـې مخـې تـه کـوم خنډونـه پراتـه دي، هغـه لـه منځـه یـوسي او هغـې سـولې تـه لاره هـواره کـړي چـې د ټـول افغـان ملت، د سـولې د شـهیدانو، د بـورو مینـدو، د کونډو او یتیمانـو ګـډه هیله ده.

د نظـر خاونـدان وایـي چـې د سـولې پـه پروسـه کـې هـر ډول خنـډ کـولای شي د سـولې پروسـه ډېره سـتونزمنه کـړي، دواړو لـورو تـه پـکار ده چـې د دغـه بهـیر د پیـل لپـاره دې هـر خومـره ژر چې کېـدای شي، کار وکـړي او مذاکـرات دې پیـل کـړي.

د کرونـا ویـروس پـه اړه رسـمي څرګندونـې نشـته چـې د سـولې پروسـه دې ټکنـۍ کـړې وي، خـو داسـې ګنګوسـې دي چـې د افغـان دولـت له لـوري د سـولې د پلاوي ځینـې غړي او د طالبانـو ځینې مهم غړي پـه یـاد ویـروس اخته شـوي دي.

د دواړو لـورو لخـوا تیارۍ نیـول کېږي چې د دې پروسـې د وړانـدې تګ لپـاره د جون پـه نهمـه د پاکسـتان د پـوځ مـشر جـنرال قمـر باجـوه د افغـان سـولې د خـبرو لپاره افغانسـتان تـه راغلی و.

لـه پورتـه شـته شـواهدو دا په ډاګـه کېږي، چـې کرونـا پـر صنعـت، تجـارت، تعلیمـي نظـام او د نـړۍ نـور هـر ډول کارونـو اغېـز کـړی، خـو د افغان سـولې پـر مذاکراتو یې پرتـه له جـزوي اغېز کوم بـل ځانګړی اغېز نـه ښـکاري. بلخـوا جګـړې پـه هیـواد کې ډېـرې ژورې ریښـې غځولـې، لـه همـدې کبله سـولې ته لاره پرانیسـتل دومره سـاده او اسـانه کار نـه دی، خـو ناممکـن هـم نـه دی.

لکـه څنګه چـې جـنرال باجوه افغانسـتان تـه راغلـی و او د سـولې پـر مسـایلو یـې د مصالحـې د شـورا لـه مـشر او ولسـمشر محمـد اشرف غنـي سره خـبرې اترې کړې او ویـل کېږي چـې پرته له دې بـه د افغان سـولې بهـیر نیمګـړی وي.

لـه همـدې هم ثابتېږي چـې د سـولې لاره مـو له ډېرو پېچلو سـیاسي کړلېچونو څخه تېرېـږي، نو طبعـاً چـې مذاکراتـو او بالاخره سـولې ته رسـېدل ډېر وخت او سـخت کار تـه اړتیـا لري.

# چگونگی و اهداف سفر جنرال باجوه لوی درستیز پاکستان به کابل

نویسنده: ناهید علی خان/ کوبها دیالوگ

سه یا چهار ماه پیشرو برای پاکستان حایز اهمیت است و در این مدت باید موضوع صلح افغانستان یک جهت مشخص را اختیار کند. پاکستان نگران است که با زمان گیری پروسه صلح فرصتی را که اکنون در افغانستان و جهان به دست آنها آمده است، از دست ندهد. سفر و ملاقات های جنرال قمر جاوید باجوه لوی درستیز پاکستان به کابل به همین هدف بوده است.

گفتگوهای صلح

پروسه صلح افغانستان یکی از اهداف مشترک حکومت افغانستان و امریکا است. مذاکرات وتوافقنامه طالبان و امریکا زمینه مذاکرات بین افغانها را فراهم نموده است که یک امیدی به پایان جنگ و برقراری صلح پایدار در افغانستان خوانده می شود.

پروسه صلح را که ایالات متحده و حکومت افغانستان مشترکآ با طالبان آغاز نموده بودند، واشنگتن در جریان مذاکرات، حکومت افغانستان را در حاشیه قرار داد و مذاکرات را مستقیم با این گروه ادامه دادند. به نظر میرسد که در حاشیه قرار دادن حکومت افغانستان از میز مذاکرات یکی از پیشنهادات مهم گروه طالبان و پاکستان بود، چون پاکستان هراس داشت که اگر این مذاکرات سه جانبه ( حکومت افغانستان، طالبان و امریکا) صورت گیرد، بازی از دست پاکستان بیرون میشود، لهذآ پاکستان توانست امریکا و بعضی از سیاستمداران افغان را قناعت داده و بدین ملحوظ در نخست حکومت افغانستان و سپس سیاسیون را به نوبه خود از این پروسه خارج نمایند.

پاکستان و طالبان توانستند حکومت افغانستان را در پروسه صلح به مهارت خاص برای جامعه بین الملل سد راه معرفی نمایند که این کار سبب بروز فشارهای مردم و منطقه تا حدی شد که هر اقدام حکومت با واکنش های فراوان رو به رو شد و هنوز هم میشود.

پاکستان با موفقیت در هدف نخست که حاشیه سازی حکومت افغانستان و سیاسیون از میز مذاکره بود، برای مذاکرات دور دوم آمادگی گرفت تا بتواند اهمیت و نفوذ خویش را برای حکومت افغانستان و جهان وانمود سازد. جهت رسیدن به این هدف جنرال قمر جاوید باجوه لوی درستیز اردوی پاکستان به همکاری جنرال برتانیوی (نیکارتر) به کابل سفر نمود و با رئیس جمهور غنی و داکتر عبدالله عبدالله رئیس شورای مصالحه ملی ملاقات نمود.

گرچه در رسانه های اجتماعی چنین گفته شد که سفر این مقام بلند پایه نظامی پاکستان به افغانستان همزمان با تلاش ها جهت گفتگوهای مستقیم گروه طالبان و دولت افغانستان از سوی امریکا جریان دارد.

سفر جنرال قمر باجوه به کابل در حالی صورت می گیرد که افغانها تا هنوز بر نیت پاکستان به دیده ی تردید می نگرند و هنوز هم اکثریت افغانها و جهانیان پاکستان را در منطقه حامی قوی تروریزم می دانند و گمان میرود که پاکستان خواهان حکومت دلخواه و دست نشانده خود در افغانستان است.

در حل مناقشه و کاهش خشونت در افغانستان، پاکستان با رهایی از اتهامات حمایت کننده طالبان و برای بلند بردن منافع شخصی خود و امتیاز گیری از ایالات متحده امریکا از روند صلح استقبال گرم و تلاش سودمند می نماید.

افغانستان و پاکستان می توانند از طریق روابط سیاسی، اقتصادی و ستراتیژیکی از هم دیگر بهره مند شوند.

علاقمندی پاکستان و امریکا در پروسه صلح افغانستان

تلاش عمده ایالات متحده برای پیروزی روند صلح و اغاز مذاکرات بین الافغانی بر اساس منعفت های دو کشور است. تمایل دونالد ترامپ به خاتمه جنگ و حمایت از پروسه صلح در افغانستان به هدف امتیازات و برنده شدن در انتخابات آینده امریکا خوانده می شود. از جانب دیگر ترامپ سعی دارد که با خاتمه جنگ افغانستان به جهانیان نشان دهد که می تواند قضایای پیچیده را حل و فصل نماید و جنگ تاریخی افغانستان را که پر هزینه ترین جنگ در تاریخ نظامی ایالات متحده، خوانده می شود، نقطه پایان ببخشد. خاتمه جنگ در افغانستان مهم ترین شعار انتخاباتی دونالد ترامپ در مقابل دیموکرات ها و احتمال پیروزی وی در انتخابات امریکا خواهد بود.

زمانیکه رئیس جمهور ترامپ تحت انتقادات تند مردم خود قرار می گیرد، از خروج نیروهای امریکایی از افغانستان و مسایل و تحریم های اقتصادی ایران سخن می زند و به مردم اش وعده میدهد که به طویل ترین جنگ امریکا به زودی خاتمه خواهد داد.

پاکستان با استفاده از این فرصت میخواهد که از یک سو منافع خود در پروسه صلح را حفظ و از سوی دیگر امتیازات زیادی را از امریکا و حکومت افغانستان کسب نماید. پاکستان همچنان تلاش دارد تا گروه طالبان را در کابل به اقتدار برساند.

پاکستان می داند که چند ماه پیشرو حایز اهمیت است و در این مدت باید موضوع صلح افغانستان یک جهت مشخص را اختیار کند. نظامیان پاکستان هراس دارند که اگر پروسه صلح افغانستان تا زمان انتخابات امریکا جهت مشخصی را اختیار نکند، احتمالا مشکلات ذیل بروز خواهد کرد:

احتمال اول، رئیس جمهور ترمپ که تحت فشارهای سختی قرار دارد، اگر احتمالآ در انتخابات آینده امریکا پیروز نشود، پروسه صلح از دست زلمی خلیل زاد بیرون رفته و به حکومت جدید واگذار خواهد شد و حکومت جدید محدودیت های جدیدی علیه پاکستان وضع خواهد کرد.

احتمال دوم، اگر ترمپ از فرصت پروسه صلح افغانستان به نفع کمپاین انتخاباتی خویش استفاده کرده و دوباره به قدرت برسد ممکن نظرش در مورد پروسه صلح افغانستان تغییر کند.

احتمال سوم، اگر خروج نیروهای خارجی قبل از انتخابات امریکا صورت گیرد، این حالت ممکن سبب جنگ های داخلی شده و وضعیت از کنترول حکومت، طالبان و پاکستان خارج شود که این کار بهای سنگینی برای پاکستان در قبال خواهد داشت.

پس پاکستان در سدد همین فرصت طلبی بوده تا بتواند اعتماد حکومت و مردم افغانستان را بدست آورده و هر چه زودتر روند گفتگوهای صلح بین افغان ها را آغاز نماید.

پاکستان از روند جاری مذاکرات صلح منافع ذیل را بدست میآورد:

- کاهش فشارهای جامعه جهانی که پاکستان حامی تروریزم در منطقه است.
- حل بحران اقتصادی و جذب کمک های جهانی
- با خروج نیروهای خارجی از افغانستان، در مسایل امنیت ملی خود رفع خطر می کند
- ایجاد حکومت دست نشانده احتمالی پاکستان که منافع ایشان در آن حفظ خواهد بود
- تضعیف دوباره نیروهای امنیتی، نهادهای ملی و دست آوردهای بیست سال اخیر
- کنار زدن رقبای سیاسی پاکستان از صحنه

مداخلات خصمانه پاکستان از سالها بدینسو منجر به تخریب اوضاع داخلی در افغانستان گردیده که این عمل پاکستان سبب بی باوری وعدم اعتماد افغان ها بالای حکومت پاکستان شده است. از همین رو اکنون پاکستان تلاش دارد که برای منافع سیاسی کشورش و یاهم بر بنیاد پالیسی جدید امریکا، خود را پیش قدمتر و حامی صلح در افغانستان ظاهر نماید.

یکی از اهداف مهم سفر جنرال باجوه به کابل از بین بردن بی اعتمادی افغانها بر پاکستان بود و می خواست با حمایت روند صلح در افغانستان، باور و دوستی افغانها را احیاء کند.

پروسه صلح افغانستان در این آواخر در منطقه و جهان به عنوان یک پدیده ی منفعت بار مبدل گردیده که از میدان عمل کاملآ به شعار و امتیاز گیری تبدیل گردیده است. رئیس جمهور امریکا برای انتخابات آینده امریکا به حیث شعار انتخاباتی اش از این روند استفاده مي نماید. پاکستان میخواهد نیروهای خارجی را مجبور به ترک افغانستان نماید و طالبان را از یک گروه تروریستی به یک جریان سیاسی قوی تقدم بخشد و از این طریق نفوذ خود در خاک افغانستان را بیشتر نماید.

باوجود این همه مشکلات و بدبینی ها در رابطه به نیت کشورهای منطقه و جهان، صلح ارزوی افغان ها است و یک خوشبینی توام با اضطراب و نگرانی در بین مردم وجود دارد. به حکومت افغانستان، گروه های سیاسی و تاحدی به گروه طالبان تعلق دارد که وضعیت پیچیده کنونی را درک کنند و روند صلح قربانی حفظ نفوذ و منافع دیگران نگردد.

# کرونا ضد مبارزه او نوي پورونه؛

## شنونکي: د فساد په موجودیت کې د پور اخیستل د اندېښنې وړ دي




له کرونا سره د مبارزې په برخه کې له مالي امکاناتو د ناوړه استفادې او فساد په اړه ګڼې اندېښنې موجودې دي. له لومړي سره په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې داسې راپوروونه خپاره شول چې ګواکې له کرونا سره د مبارزې تر نامه لاندې افغان حکومت ته میلیونونه ډالر را روان دي، خو دا مرستې د مفسدو چارواکو له لوري شخصي جیبونو ته ځي. هغه ادعا چې په ځلونو حکومت رد کړې ده. تازه ملي شورا د پیسو له نړیوال صندوق د پور اخیستل هم تایید کړي دي، خو په دې برخه کې فساد خلک اندېښمن کړي دي. افغان حکومت څه موده وړاندې له ولسي جرګې غوښتي وو چې د دوی غوښتنې ته مثبته رایه ورکړي او دوی به تر هغه وروسته وکړی شي چې د پیسو له نړیوال صندوق پور واخلي. ولسي جرګې دې طرحې ته منفي رایه ورکړه او استدلال یې هم دا و چې افغان حکومت د دغو پیسو د لګولو لپاره طرحه نه لري، نو ښايي د فساد له امله شخصي جیبونو ته لاړې شي. له دې څو ورځې وروسته مشرانو جرګې دغې طرحې ته مثبته رایه ورکړه او په خبره یې حکومت کولی شي چې د پیسو له نړیوال صندوق پور واخلي. د مشرانو جرګې او ولسي جرګې ګډ پلاوي هم وروسته پر دې طرحه هوکړه وکړه او حکومت اجازه پیدا کړه چې د پیسو له نړیوال صندوق له کرونا سره د مبارزې لپاره ۲۲۹ میلیونه ډالر پور واخلي.

له دې سره جوخت اوس یوشمېر شنونکي او د مسایلو څارونکي پر دې باور دي چې ښايي دغه پیسې د فساد له امله شخصي جیبونو ته لاړې شي. دوی وايي، د هېواد اقتصادي وضعیت ته په پام او دغه راز شته فساد ته په کتو د حکومت دغه پرېکړه بېځایه ده او ښايي د هېواد راتلونکې ته ستونزې جوړې کړی.

افغان حکومت داسې مهال د پیسو د پور کولو پرېکړه کوي چې دوی ملت ته د لګول شوو پیسو په حساب ورکولو او شفافیت کې پاتې راغلي دي. پر حکومت نیوکې دي چې د میلیونونو ډالرو مرستو له راتګ سره سره دوی بریالي نه شول چې د کرونا ویروس د پراختیا مخه ونیسي، له اړمنو سره مرسته وکړي او د اقتصادي ځوړتیا مخنیوی وکړي. له همدې امله شنونکي وايي چې ښايي پور کېدونکې پیسې هم شخصي جیبونو ته لاړې شي. د اقتصادي مسایلو شنونکی قیس محمدي وايي: ((له افغانستان سره د کرونا پر وړاندې د مبارزې په موخه میلیونونه ډالر مرسته شوې ده. کافي مرسته شوې تر ۹۰۰ میلیونه ډالرو پورې مرسته مو ترلاسه کړې ده. بله بدمرغي دا ده چې دوی تر اوسه د دې پیسو د لګولو او څرنګوالي په اړه نه خلکو ته حساب ورکړی نه ولسي جرګې ته. نو نوی پور به هم همداسې شي، له یوې خوا به مخکینی اختلاص وربانديې پټ کړي او له بلې خوا به دا هم شخصي جیبونو ته لاړ شي)).

بلخوا د مالي وزارت وايي چې روان کال به د پیسو نړیوال صندوق له لوري ۱۷ میلیارده ډالر پور افغانستان ته ورکړل شي. د مالیې وزارت ویاند شمروز خان مسجدي وايي دا به د ملي بودیجې برخه ګرځول کېږي او پنځلس سلنه د دې امکان شته چې افغان حکومت ته دغه پور وبښل شي. دده په خبره ((دا پیسې به د افغان حکومت له لوري په هغه برخو کې لګول کېږي چې اړتیا ورته لیدل کېږي)).

بلخوا د کابل والي محمد یعقوب حیدري بیا وايي چې د دې پیسو پر لګولو بهرنیان پخپله نظارت کوي. د ده په خبره، له مرسته شوو پیسو بهرنیان تجهیزات او اړتیا وړ توکي اخلي او دغه توکي بیا افغان حکومت ته ورکول کېږي. د ده په خبره، افغان حکومت به یوازې لومړیتوبونه ورته مشخصوي او د پیسو د لګولو صلاحیت به له څارونکو او نړیوالو بنسټونو سره وي.

# په امریکا کې د لاریونونو دویمه څپه؛

## په اتلانتا کې د یوه بل تور پوستي له وژل کېدو سره سم له تاوتریخوالي ډک لاریونونه پیل شوي

د امریکا په اتلانتا ښارکې د پولیسو په ډزو کې د یوه بل تور پوستي له وژل کېدو او د لاریونونو له پیل وروسته د دغه ښار د پولیسو مشرې اریکا شیلډز استعفا ورکړه. دا په داسې حال کې ده چې دغه ښار له دې پېښې وړاندې د یوه بل تورپوستي جورج فلوېډ د وژلو په غبرګون کې د پراخو لاریونونو شاهد و.

۲۷ ریچارډ بروکس هغه وخت ووژل شو، کله چې دی د یوه رستورانټ مخې ته په خپل ولاړ موټر کې خوب وړی و. په هغو وېډیوګانو کې چې د پېښې له جریانه اخیستل شوي او پر ټولنیزو شبکو خپرې شوي، لیدل کېږي چې بروکس د یو رستورانت د پارکېنګ په ساحه کې د پولیسو په ډزو وژل کېږي.

دا پېښه داسې مهال کېږي چې له څو اونیو راهیسې د اتلانتا په ګډون د امریکا په نورو ښارونو کې د جورج فلوېډ له وژنې وروسته د پولیسو د تاوتریخوالي او توکمپالنې پر ضد پراخ لاریونونه روان دي. په ورته وخت کې د اتلانتا پولیسو ویلي چې د بروکس د شراب څښلو معاینه مثبته وه او نوموړي د نیولو پر مهال له دوی سره مقاومت کړی دی.

بلخوا د جورجیا ایالت د جنایي څېړنو اداره د ریچارډ بروکس د مړینې په اړه پلټنې کوي او په دې لړ کې هغه ویډیو هم څېړي چې یوه عیني شاهد اخیستې ده. بروکس په دې ویډیو کې د رستورانټ د موټرو په تمځای کې له دوو پولیس افسرانو سره د لانجې په حال کې لیدل کېږي. نوموړی له یوه پولیس افسره د برېښنایي شاټ اله ( ټیزر) اخلي او تښتي. بل پولیس دی په ټیزر په نښه کوي، وروسته بیا دواړه پولیس په داسې حال کې چې منډې وهي، د کمرې له مخې پنا کېږي. له دې وروسته د ډزو غږ اورېدل کېږي او بروکس لیدل کېږي چې پر ځمکه پروت دی. د «اېن .بي .سي» خبري شبکې د راپور پر بنسټ، روان کال دا په امریکا کې له پولیسو سره د ښېپلتیا د ډزو ۴۸مه پېښه ده چې د جورجیا څېړنیزه اداره یې په اړه تحقیق کوي چې له دې ډلې ۱۵ هغه یې مرګونې وې. له دې پېښې وروسته په مرکزي اتلانتا کې پراخ لاریونونه پیل شوي، لاریون کوونکو هغه لوحې له ځان سره لېږدولې چې د بروکس نوم او دا شعار چې «د تورپوستو ژوند ارزښت لري» پرې لیکل شوي وو.

بلخوا په پاریس او لندن کې هم په امریکا کې له تورپوستو سره د وروستي تبعیضي چلند په تړاو پراخ لاریونونه شوي دي.


## د کتــاب خبـرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

○ لیکوال: رابرټ کیوساکي
○ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه

### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارايي. نهم څپرکی




**لومړۍ دارايي: د رښتیني ژوند کاروباري زده‌کړه**

دا باید ومنم چې په لوستلو کې ډېر ورو یم. که څه هم زیاته مطالعه کوم؛ خو په لوستلو کې بیخي ورو یم. زیات وخت د کتاب ځینې برخې دوه یا درې ځله لولم چې پرې پوه شم. بله دا چې په لیکلو کې هم ډېر کمزوری یم. په ښوونځي کې دوه ځلې په لیکنه کې ناکام شوی یم.
یو کمزوری زده کوونکی چې په ښوونځي کې په لیکلو کې ناکام شوی او تر اوسه هم ښه لیکوال نه دی؛ خو بیا یې هم اووه کتابونه د نیویارک ټایمز د زیاتو پلورل شوو کتابونو په لیست کې شامل دي. ستاسو په نظر دا ډېره حیرانوونکې نه ده؟
زما مطلب دا دی چې په درس کې ښې نومرې ترلاسه کول هرڅه نه دي. البته ما غلط درک نه کړئ. زه نه غواړم زده کړې بې ارزښته وبولم. زه پر پوهه او تربیه باور لرم او د ترلاسه کولو لېوالتیا یې هم لرم. خو زه پر هغه زده‌کړه باور لرم چې په ژوند کې مو د بریا سبب کېږي.
زه چې د شبکه یي بازارموندنې په رامنځته کولو کې خلکو ته لومړنی دلیل وړاندې کوم، هغه دا نه دی چې دوی دې ژوند بدلوونکي ښه تولیدات وکړي. د زیاتو پیسو ګټلو یا د اقتصادي ازادۍ د رامنځته کولو دلیل هم نه ورته وړاندې کوم. سمه ده، دا منم چې د دې کاروبار تولیدات خامخا ښه دي او ستاسو په شتمنېدو کې رغنده رول لري. خو دا د دې تجربې اړینې ګټې نه دي، بلکې د دې تجربې اړینه ګټه د رښتیني ژوند کاروباري زده کړه ده.

**درې ډوله زده‌کړه**

که غواړئ له اقتصادي اړخه بریالي شئ، نو دغو درې ډوله زده کړو ته اړتیا لرئ:
١. د ښوونځي زده کړه (Scholastic)
٢. مسلکي زده کړه (Professional)
٣. اقتصادي زده کړه (Financial)


د ښوونځي زده کړې تاسو ته لیکل، لوستل او ریاضیات درښیي. دا زده کړې په نننۍ نړۍ کې خورا زیات ارزښت لري. زه خپله په دې زده کړو کې چندان لایق نه وم. لکه څنګه چې مې مخکې وویل، د کمزورو زده کوونکو له جملې څخه وم. ځکه څه چې یې راښودل، لېوالتیا مې ورسره نه وه.
مسلکي زده کړې تاسو ته د پیسو ګټلو لاره درښیي. په بله وینا، په E او S کونجونو کې مو ژوند کولو ته چمتو کوي. زما د ځوانۍ په وختو کې به له تکړه زده کونکي څخه ډاکټر، وکیل او محاسب جوړېده. پاتې کسان مسلکي ښوونځیو ته تلل چې نرسان، پیپ کاران، برقیان او د موټرو مستریان شي.
په مسلکي زده کړو کې هم ښه نه وم. د ښوونځي په درسونو کې تکړه نه وم، نو ډاکټرۍ، وکالت او محاسبې ته مې زړه نشوی ښه کولای. په لومړیو کې د بېړۍ افسر او وروسته پیلوټ شوم. په ویتنام کې مې امریکایي جنګیالي وړل راوړل. په ۲۳ کلنۍ کې د دوو کسبونو مسلکي وم؛ د کښتۍ افسري او د الوتکې پیلوټي. خو په پیسو ګټلو کې مې له دې دواړو ګټه نه ده اخیستې.
اقتصادي زده کړې د پیسو کارول در زده کوي. دا کله هم نه درښیي چې د پیسو لپاره کار وکړې. ښایي دا فکر کوئ چې اقتصادي زده کړې تاسو ته د اقتصاد په پوهنځیو کې در زده کېږي. داسې نه ده. کله هم داسې نه ده. هلته تاسو ته د شتمنو خلکو په شرکتونو کې د اجراییه مدیر په توګه دنده ترسره کول در زده کوي. په بله وینا، تاسو ته په E یا S کونج کې د ښه ژوند کولو لاره درښیي.
کله چې له ویتنامه راوګرځېدم، غوښتل مې په مدیریت او بازارموندنه کې ماسټري وکړم؛ خو شتمن پلار مې راته وویل:((که ماسټري واخلې، نو د دې لپاره به دې زده کړه کړې وي چې له شتمنو خلکو سره دنده ولرې. که غواړې شتمن شې، نو د ښوونځیو زده کړو ته اړتیا نه لرې، بلکې د حقیقي ژوند اقتصادي زده کړو ته اړ یې.))

**اړین مهارتونه**

متشبث کېدل او شرکت جوړول اسانه نه دي. زه باور لرم چې تجارت جوړول د یو کس لپاره تر ټولو ستونزمن کار او ننګونه ده. په همدې خاطر زیات خلک ازاد یا په تنخوا کار کوي. که د خپل تجارت جوړول اسانه کار وای، نو ټولو به کړی و.
که غواړئ په خپل تجارت کې بریالي شئ، نو یو لړ داسې فني او تخنیکي مهارتونو ته اړتیا ده چې په ښوونځي کې نه دي درښودل شوي. مثلاً، د منظمېدو وړتیا او د کارونو ترتیبول له دې جملې څخه دي. دا تر دې ډېر ارزښت لري چې تاسو فکر کوئ.
کوم خلک چې شبکه یي بازارموندنې ته ننوځي، حیرانېږي. ځکه دوی یوازې له هغه څه سره اشنا وي چې مخکې یې زده کړي وي او په شبکه یي بازارموندنه کې نوي شیانویني. که په E کونج یانې تنخوا لرونکي کار کې هرڅومره هڅه وکړې، بیا به هم د موخې په درلودلو، د عملي کولو په ترتیب، د کاري اجنډا په ترتیب، د وخت په مدیریت او د یوې ښې او اغېزمنې کړنې په سرته رسولو کې کامیاب نه یې.
**دوام لري...**

# د کندهار پېژندنه

◄ حشمت الله نوري



کندهار ته د لوی سکندر راتګ نه یوازې د غرب تاریخپوهان مصروف وساتل، بلکې د لرغوني یونان د مشهور تاریخپوه (هېرودېتس) په شان تاریخپوهانو هم د اراکوزیا په نامه په خپلو اثارو کې د کندهار ذکر کړی دی. کندهار پراخې دښتې او د لویو غرونو سلسلې لري، ابادو ځمکو او سمسورو باغونو یې هم اقتصاد او هم ښکلا ته ګټه رسولې ده. کندهار چې له پخوا څخه د افغانستان یو مشهور او سوداګریز ښار و، اوس یې هم خپل مرکزیت ساتلی دی.
کندهار لومړۍ درجه ولایت دی، چې شمال ته یې اروزګان، سوېل ته یې ډېورنډ فرضي کرښه او بلوچستان، ختیځ ته یې زابل ولایت او لوېدیځ ته یې هلمند ولایت موقیعت لري.
کندهارد افغانستان دویم لوی ښار دی چې په جنوب کې د ارغنداب د رود په دره کې پروت دی او دا ښار د کندهار ولایت اوسنی مرکز دی. دغه ولایت د افغانستان لومړنۍ پلازمېنه او تر کابل وروسته د افغانستان تر ټولو لوی سوداګریز مرکز دی. دغه راز کندهار یو نړیوال هوایي ډګر هم لري چې د کندهار نړیوال هوایي ډګر په نامه دی.
لوی احمدشاه بابا د خپل سلطنت له لومړیو وختونو څخه په دې فکر کې و، چې د هېواد د پایتخت په توګه د کندهار نوی ښار جوړ کړي؛ ځکه د نادر آباد نظامي کلا له یوې خوا دومره پراخه نه وه، چې د یوې لویې امپراتورۍ د پایتخت لپاره دې مناسبه وي او له بلې خوا یې موقعیت هم پر یوه داسې سیمه و، چې ډېره نمناکه وه؛ ځکه یې نو تر ډېرو سلا او مشورو او لیدنو کتنو وروسته د کندهار د اوسني ښار سیمه غوره وبلله او د (۱۱٦۹ هـ ق) د ربیع الثاني په لومړۍ ورځ د احمدشاهي کندهار د بنسټ ډبره کېښودل شوه. دغه ښار د اشرف البلاد په صفت ونومول شو او د دراني امپراتورۍ د یوه لرغوني پایتخت او مرکز په څېر یې حیثیت پیدا کړ. دغه ښار د تاریخ په اوږدو کې د مختلفو داخلي او خارجي مورخینو او سیلانیانو په لیکنو او اثارو کې ذکر شوی دی او د دغه تاریخي ښار پر لرغونتوب، قدامت او معمارۍ یې لیکنې کړې دي.
دغه ښار په لومړي سر کې پر څلورو ناحیو مشتمل و، چې په منځ کې یې یوه پوښلې څلور لاره هم درلوده، چې د کندهاري لرغوني معمارۍ استازیتوب یې کاوه. په معاصره دوره کې دغه ښار د ښاروالۍ د تشکیلاتو له مخې ډېر پراخ شوی دی.
کندهار ډېر لرغوني آبدات او ځایونه لري چې ځیني یې په دې ډول دي:
۱- منډیګک: دا غونډۍ ۳۱ متره لوړه ده. په حقیقت کې د غونډۍ دغه لوړوالی د هغو سر پر سر جوړو شوو ودانیو څخه رامنځته شوی، چې د زمانې پېښو زرګونه کلونه مخکې په خپل- خپل وار نړولې او د غونډۍ شکل یې غوره کړی دی. دا غونډۍ له دوو زرو کلونو راهیسې متروکه او د ورانۍ په حال کې پرته ده. د منډیګک د لومړنۍ ودانۍ، چې عمر یې (۹۰۰۰) کاله کېږي، د انسان د لاس ډېرې لومړنۍ نښې لکه، ځینې توږل شوې ډبرې او د ځارویو تېره شوي هډوکې دي، چې لا نور څه نه دي ځینې تر لاسه شوي، خو له دې لومړي پوړ څخه تر پنځلسم پوړ پورې د دې غونډۍ د بېلابېلو اوسېدونکو د ژوند بشپړتیایي ګامونه را څرګندېږي، چې وروستی پوړ یې له ژیړو څخه جوړ شوي لوښي هم لري.
۲- چل زینه(چهل زینه): چل زینه د زاړه کندهار شمال ته د غره په ډډه کې یو دالان دی، چې د غره له بېخه زینې ور ختلې دي. دالان او زینې دواړه د غره په ډبره کې د اوسپنې په قلم کېندل شوي دي. پخوا د دالان دواړو خواوو ته د ډبرې دوه زمریان هم پراته وو، چې اوس نشته. د پوزې پر سر باندې ځارغالی هم و، چې وروسته نور کار پر شوی و.
چل زینه د بابر پاچا د زوی (عسکري میرزا) له خوا جوړه شوې ده، چې د ودانېدو کار یې په (۹۳۰ هـ ق) کې شروع او په (۹۵۳ هـ ق) کې پای ته رسېدلی دی. د چل زینو د دالان د نستعلیق خط د نوشتې او تذهیب کار د میر معصوم کندهاري له خوا تر سره شوی دی.
د زینو یوې او بلې خوا ته کنګرې شاه امان الله خان ور جوړې کړې دي. دغه په حساب سره پوره ۴۳ زینې دي.
۳- ارګ: د ارګ غونډه ماڼۍ د احمدشاه بابا د زمانې ده او د ده اداري شاهي مرکز و، چې مخې ته یې څلور چمنونه درلودل. د ارګ په نامه دغه ماڼۍ د احمدشاهي کندهار شمال ته پرته وه، چې د نولسمې مېلادي پېړۍ تر پایه پورې لا په هماغه لومړني شکل ولاړه وه، خو د ارګ اوسنۍ ودانۍ د سراجي عصر له ودانیو څخه ده چې د سراج الملة والدین امیر حبیب الله خان په حکم د سردار محمدعثمان خان والي په وخت کې جوړه شوې ده. پخوا په دې ودانۍ کې د ولایت پر مقام سربېره د کندهار زیاتره دولتي اداري واقع وې. د ودانۍ شمالي او جنوبي لور ته تعمیرونه جوړ شوي وو، چې په منځ کې یې لوی غولی دی.
۴- احمدشاهي کلا: د کندهار احمدشاهي ښار د مستطیل په شکل و او پر شاوخوا یې یوه کلا را تاو شوې وه. دې کلا شپږ دروازې درلودې (کابل دروازه، ښکارپر دروازه، هرات دروازه، عیدګاه دروازه، توپخانې دروازه او برو دروازه.)
دغه هره دروازه له پنډو- پنډو تختو څخه جوړه شوې وه او ایربې اېښول شوې وې.
احمدشاهي کلا پر سل – سل متره باندې یو وتلی برج درلود، چې له دغه وتلي برج څخه د کلا د باندې ساحه او د کلا بېخ څارل کېده.
د هر برج پر سر باندې د توپ ویشتلو لپاره یوه خالصه برخه وه او د هرو دوو برجونو تر منځ د باران د اوبو د وتلو لپاره پنځه – پنځه ناوې جوړې شوې وې.
د کلا وروستی ترمیم د امیر حبیب الله خان د پاچاهۍ پر مهال هغه وخت سر ته ورسېد، چې سردار محمدعثمان خان د کندهار د نایب الحکومه په توګه د دغه ښار مقتدر واکمن و.
پر دې سربېره، کندهار ډېر تاریخي ځایونه هم لري، چې ځیني یې دې ډول دي:
د خرقې شریفې زیارت او جامع جومات: د دې جامع جومات او د خرقې مبارکې د نوې ودانۍ بنسټ د سدوزي تېمورشاه په پاچاهۍ کې په کال کې کېښودل شو او د روژې د میاشتې په لومړۍ نېټه یې کار بشپړ او مبارکه خرقه یې ورته را نقل کړه. د جامع جومات په ودانۍ کې د وخت په تېرېدو سره بدلونونه راغلي دي، خو د سردرا محمدعثمان خان په وخت کې خاص بدلون پکې راوستل شو، خو دا اوسنۍ بڼه یې د مرحوم محمدظاهرشاه په پاچاهۍ کې راغلې ده. البته ځینې قبرونه او کورونه ونړول شول او د خرقې مبارکې غولی پراخ کړل شو.
د خرقې شریفې د زیارت نقاشي د امیر حبیب الله خان د پاچاهۍ پر مهال د امیر د ورور سردار نصرالله خان په هڅه د صوفي عبدالحمید بارکزي په هنرمندو ګوتو سر ته رسېدلې ده. د زیارت د شاوخوا کاشي خښتو کار یو ځل د وزیر محمدګل خان په وخت کې، چې د کندهار والي و او بیا د عبدالغفور خان په مشرتابه سره بشپړ شوی دی. کاشي خښتې حاجي خیرمحمد کُلال ور جوړولې.
کندهار لومړۍ درجه ولایت دی او د ښار په ګډون ۱۸ اداري واحدونه لري، چې نومونه یې په لاندې ډول دي:
١. کندهار ښار، ٢. ډنډ، ٣. ژیړۍ، ٤. دامان، ٥. ارغنداب، ٦. ارغستان، ٧. پنجوایي، ٨. معروف، ٩. سپین بولدک، ١٠ میوند، ١١. شاولیکوټ، ١٢. تخته پُل، ١٣. خاکرېز، ١٤. نېش، ١٥. غورک، ١٦. رېګستان، ١٧. میانشین، ١٨. ښوراوک.
په کندهار کې د پښتنو تر څنګ بلوڅ، تاجک او هزاره قومونه هم ژوند کوي او ترڅنګ یې هندوان هم مېشت دي. د دغه ولایت نفوس نږدې دوه میلیونه تنه اټکل شوی دی او پراخوالی یې ٢٧٩٤ کیلومتره مربع ته رسېږي.
کندهار په خپل تشکیل کې د پوهنې په برخه کې هم د خپلو ځوانانو لپاره د زده کړې زمینه برابره کړې ده. د کروندګرو عمده کښتونه یې له غنمو، جوارو، اوربشې، ماشو، زیرې څخه عبارت دي. د مېوه جاتو ډولونه یې، انګور، انار، زردالو، ګرنګیچ، الوچه، انځر، شفتالو او داسې نور دي. د سبزیجاتو ډولونه یې رومیان، بانجان، بینډۍ، مرچک، پیاز، بادرنګ او نور دي. دغه راز حبوبات لکه نخود، ماش، لوبیا او نور هم پکې کرل کېږي.
د دغه ولایت کرنیز پیداوار انګور، انار، زردالو، شلیل، شفتالو، خټکي، هندوانې، غنم، جوار، انځر، بادام، سنتروزه او مڼې دي. دغه راز د یاد ولایت وچه مېوه؛ بادام، کشمش، ابجوشې، انځر، شکرپاره او تازه مېوې یې انګور، انار، خټکي او هندوانې د نړۍ یو شمېر نورو هېوادونو ته صادرېږي .
کاني زېرمې یې د مرمرو ډبرې، فلورایټ ډبرې، لومیټ ډبرې، رخام ډبرې، د ډبرو سکاره، د ګچو معدن، سره زر، اوسپنه، د ډبرو سکاره او نور دي، خو اوس هم د دغه ولایت اویا سلنه وګړي په فقر کې ژوند کوي او خپل ورځنی ژوند له کرنې او مالدارۍ څخه تامینوي .په ۱۳۸۲ کال کې په کندهار کې د نورو ولایتونو په څېر د صنعتي پارکونو د آمریت تشکیل جوړ او تاسیس شو. د فابریکو د جوړولو لپاره د ښوراندام ساحه وټاکل شوه او د ځمکو نمرې توزیع شوې.
د فابریکو مهم تولیدات یې سیخونه، ګاډر، المونیمي لوښي، پلاستیکي لوښي، څپلۍ، کونجاره، غوړي، صابون او نور... د یادونې وړ دي. د مېرمنو د لاسي صنایعو په برخه کې کندهارۍ غاړې او خامک نړیوال شهرت لري.
په کندهار کې هم د نورو ولایتونو په شان انځوریزې، غږیزې او چاپي رسنۍ خپل فعالیت کوي.
په ۱۸مه پېړۍ کې افغانستان د صفوي دولت په لاس کې و. د دغه دولت مشر په کندهار کې د ګورګین خان په نامه یادېدو. ګورګین خان پر پښتنو ډېر ظلمونه کول، نو په دې وخت کې د پښتنو مشران سره راټول شول او یوه لویه جرګه یې جوړه کړه. هغه وو چې په ټولو یې حاجي میرویس خان د قوم په مشرۍ وټاکه. حاجي میرویس هوتک د پښتنو سره لاس یو کړ. په اول کې یې ګورګین خان ته نصیحت وکړ، خو هغه ونه مانه؛ ځکه یې له ګورګین سره جګړه پیل کړه. په دغه جګړه کې ګورګین خان ووژل شو. تر جګړې وروسته په ۱۷۰۹ ز کال کې ښتانه د پردیو له لاسه خلاص شول.
د نادر شاه تر وژلو وروسته په ایران او افغانستان کې یو سم منظم حکومت وجود نه درلود. یو ځوان قوماندان چې نوم یې احمد خان ابدلي و، د نادر له مرګ څخه ګټه واخیسته او اردو یې راټوله کړه او کندهار ته ولاړ. هغه وو چې د کندهار د شېرسرخ بابا په زیارت کې د پښتنو مشران سره را ټول شول او یوه لویه جرګه یې جوړه کړه. په دې جرګه کې ډېرې خبرې وشوې، څو هغه وو چې د دې زیارت ملنګ صابر شاه د غنمو یو وږی را واخیست او د احمد شاه بابا په لنګوټه کې یې ورجګ کړ او احمد شاه بابا یې د پاچاه په توګه وټاکه. احمد شاه بابا په کندهار کې خپل مقر جوړ کړ او کندهار یې بیا د افغانستان د دولت پلازمېنه وټاکله.

همیانۍ

# د زیاتو کتابونو لوستل او ګټې يې!

ژباړه: حمیدالله حمیدي

د څمکي پر سر د هرې موضوع په اړه کتاب لیکل شوی، چې د ضرورت په وخت کې کولای شی ترې ګټه واخلئ او مطالعه يې کړئ؛ ځکه د کتاب لوستل ستاسو سره د موضوع په روښانه کولو کې مرسته کوي. په کتابونو کې داسې معلومات نغښتل شوي وي، چې ډېرې وختونه په صنف کې د استاد له خولې نه راوځي او یا هم پرې بحث نه کېږي.
مطالعه د انسان معلومات زیاتوي او د انسان د خبرو کولو مهارت پیاوړی کوي.
مطالعه د هر انسان لپاره ډېره مهمه او ارزښتناکه ده. مطالعه د انسان شخصیت جوړوي، هرڅه چې غواړی له کتاب څخه يې تر لاسه کولای شئ. پوهان وايي چې د انسان تر ټولو ښه ملګری کتاب دی.
په یاد به مو وي، چې پخوا به مو څه ډول د یوه لغت اصلي مانا زده کوله او یادوله به مو؟ همدا د کتاب ګټه ده، چې اوس په ډېرې اسانی سره کولای شی په ډېر کم وخت د یوه لغت په مانا پوه شئ. په ځانګړي ډول، کله چې تاسو لوی لوی کتابونه مطالعه کوی، له ګڼ شمېر نویو لغتونو سره اشنا کېږی، چې په زده کولو سره مو يې لغوي پانګه زیاتېږي. مطالعه تاسو ته دا چانس درکوي، چې د نړۍ له بېلابېلو فرهنګونو او جغرافیو سره اشنا شی.
د رخصتۍ د تېرولو لپاره مو د خوښې وړ ځای کوم دی؟ تاسو يې باید په اړه مخکې له مخکې مطالعه وکړئ، تر څو هغه ځای ته په ورتلو سره پوره خوند واخلی. څومره چې مطالعه کوئ، په هماغه اندازه مو ذهن هم پراختیا مومي.
مطالعه تاسو ته دا وړتیا درکوي چې له نورو فرهنګونو سره په اجمالي توګه معرفي شی، تاسو به په دې توګه له نورو سیمو سره بلد شی، د خپلې تفریح لپاره د ځای په ټاکلو کې به کومه ستونزه نه لری. ستاسو د لید زاویه د هغو فرهنګونو او سیمو په اړه د مطالعې پر مټ بدلېدلی شي، چې د لیدو هیله يې لری.
لکه مخکې مو چې اشاره وکړه، مطالعه له ذهني قوې ګټه اخلي، دا به د دې سبب شي، څو د هغه څه په اړه چې مطالعه کوی يې، ستاسو تمرکز لوړ کړي. مجلې، مقالې یا ستاسو انټرنیټي ایمېل کولی شي په خپل ځان کې مهم معلومات ولري، خو کتابونه کولی شي ستړي کیسې او پېښې را واخلي، خو هر څه چې وي، تاسو اړ یاست چې تمرکز مو لوړ وي، نو مطالعه د تمرکز د لوړولو لپاره د سپورت په څېر ده.
که چېرې ډېر کتابونه مطالعه کړی، د هغه څه په اړه چې مطالعه کوی يې، ستاسو تجربه او پوهه به لوړ وي، دا به د دې سبب شي چې پر ځان مو باور لوړ شي، نو دا چې تاسو ښه مطالعه کوی، خلک به د دې هڅه وکړي چې د خپلو پوښتنو ځواب له تاسو واخلي، تاسو به هغوی د ځان پر لور راجذب کړئ، دا خبره د دې سبب کېږي چې تاسو ښه احساس ولرئ او خپل شخصیت دروند او د کار وړ درته ښکاره شي.
څېړنو ښودلې ده، که تاسو له خپلې حافظې کار واخلی، نو هغه به پیاوړې شي او که خپله حافظه ونه کاروئ، نو خپلې وړتیاوې به له لاسه ورکړئ. د ځینو لوبو په تېره بیا د جدولونو لوبول د الزایمر ناروغۍ د کچې د ټیټېدو سبب ګرځي، خو هغه لوبې چې په هغه کې تر ډېره کلیمې او جملې کارول کېږي، ستاسو د حافظې قوت لوړولی شي، نو مطالعه هم هغه لوبو ته ورته ده چې په هغه کې کلیمې او جملې کارول کېږي او تر ډېره تاسو ته دا وړتیا درکوي چې د کرکټرونو نومونه، پېښې او ډېر څه نور په یاد ولرئ.
ټول د مطالعې په ارزښت پوه یو او پوهېږو، چې باید پخپل ورځني ژوند کې باید د مطالعې لپاره وخت ولرو، خو څوک دا کار کولی شي یا يې کوي؟ خبره همدلته ده، که موږ مطالعې ته په خپل ورځني ژوند کې وخت ورکړو د دې سبب به شي چې فردي انضباط او نظم مو لوړ شي.
کتابونه د لېږد وړ دي، دا چې کولی شئ هر ځای له ځان سره کتابونه یوسئ نو دا وړتیا هم لرئ چې په هر ځای کې یو څه زده کړئ.
دا چې کله له ډېرو کتابونو سره مخ شئ او د ډېرو معلوماتو پر وړاندې ودرېږئ نو د دې سبب به شي چې، خلاقیت مو لوړ شي او نوي شیان مو ذهن ته درشي، ستاسو ذهن کولی شي د بېلو کتابونو معلومات سره یو ځای کړي او د یوې مسلې په حل لاره کې له هغه کار واخلي.
ایا تر اوسه داسې پېښ شوي، چې د کورنۍ د غړو، مېرمنې او یا هم د دوستانو په منځ کې د ویلو لپاره څه ونه لرئ؟ دا ډېره دردونکې ده. دغه څه ډېر کله کولای شي، چې یو لړ کورنۍ ستونزې هم پیدا کړي، ځکه که تاسو په کور کې پټه خوله کېنئ، کېدای شي د کورنۍ له غړو، مېرمنې او یا هم د شا او خوا خلکو ته یو لړ پوښتنې پیدا شي. که تاسو ډېر کتابونه لوستي وي تل به د ویلو لپاره په ذهن کې یو څه لرئ او دا دې سبب ګرځي، چې تاسو په خبرو راولي.
داسې کسان شته، چې د فلمونو او د هغې د وسایلو لپاره زیاتې پیسې خرچ کوي، خو کولای شئ، له دې نه په کمو پیسو باندې ځو کتابونه واخلئ، چې ان تر دوو میاشتو پورې پرې مصروف وئ. هڅه وکړئ، د ځان لپاره داسې کتابونه واخلئ، چې علاقه مو ور سره وي.
د مطالعې او رسمي زده کړو ترمنځ توپیر دا دی، چې په رسمي زده کړو کې ته مجبور او مکلف يې، چې هره ورځ د سهار له ۸ د ماسپښین تر ۲ بجو پورې په درسي صنف کې کښېنې، خو مطالعه تاسو ته دا چانس او یا واک درکوي، چې څه وخت مو زړه وغواړي کولای شئ د خپلې خوښې وړ شی مطالعه کړئ.
څومره چې تاسو کتابونه مطالعه کوئ، په هماغه کچه مو ذهني وړتیا هم لوړېږي او له نورو سره د نظر په تبادله کې له تاسو سره پوره مرسته کوي، چې په ډېر دقت سره ور سره خپل معلومات شریک کړئ.
ډېر کله داسې کېږي، چې تاسو د یوه څه په اړه پلټنه کوئ، خو مخې ته مو ډېر نور څه هم درشي چې یو څه ور څخه زده کړئ.

## عامې روغتیا وزارت: په هېواد کې د کرونا ویروس د مثتبو پېښو شمېر ۲۴ زره او ۷۶۶ ته ورسېد

عامې روغتیا وزارت وايي چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د کرونا ٦٦٤ مثبتې پېښې ثبت شوې چې له دې سره پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېره ۲۴۷٦٦ ته لوړه شوه.
د یاد وزارت په خبرپاڼه کې راغلي چې په تېرو ۲٤ ساعتونو کې د هېواد په لابراتوارونو کې د کرونا ویروس ۱۲۱۱ شکمنې پېښې ازمایل شوي چې ٦٦٤ يې مثبتې دي. سرچینه وايي چې د یادو پېښو په ثبتېدو سره په هېواد کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېره ۲۴۷٦٦ ته لوړه شوه.
د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې، په تازه ثبت شویو پېښو کې ۳۱٦ په کابل، ۳٤ په پروان، ۳٤ په کندهار، ۳۲ په تخار، ۳۲ په بغلان، ۳۱ په پنجشېر، ۳۰ په کاپیسا، ۲٤ په نورستان، ۲۲ په پکتیا او ۲۱ په لغمان ولایتونو کې دي.



دغه راز په تېرو ۲٤ ساعتونو کې د کرونا ویروس ۱۹ مثبتې پېښې په پکتیکا، ۱٤ په کندوز، ۱۲ په دایکنډي، ۱۱ په لوګر، اته په کونړ، اووه هلمند، اووه په ننګرهار، درې په زابل، درې په نیمروز، دوه په بامیان او دوه بادغیس ولایتونو کې ثبت شوې دي.
د عامې روغتیا وزارت وايي چې په تېرو ۲٤ ساعتونو کې ۲۰ کسان د کرونا ویروس له امله مړه شوي چې له دې ویروس څخه د ټولو مړو شویو کسانو شمېر ٤٧١ ته ورسېد.
د خبرپاڼې په حواله، په تېرو ۲٤ ساعتونو کې ٥۲٤ کسان له کرونا ناروغۍ څخه ببرته روغ شوي چې له دې سره په هېواد کې له کرونا ویروس څخه د ببرته روغو شویو کسانو شمېره ۴۷۲۵ ته لوړه شوه.
عامې روغتیا وزارت وايي چې په دې وروستیو کې د کرونا ویروس پېښې د هر افغان کورته رسېدلې دي، نو خصوصي روغتونونه هم کولای شي چې د دغې ناروغۍ درملنه وکړي.

## صدیقي: په قطر کې د بین الافغاني مذاکراتو د لومړۍ ناستې په تړاو هوکړه شوې ده

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي وايي چې په قطر کې یوازې د بین الافغاني مذاکراتو د لومړۍ ناستې په اړه هوکړه شوې ده.
دا په داسې حال کې ده، چې د قطر د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی مطلق بن ماجد القحطاني چې له تېرو څو ورځو راهیسې په کابل کې و، له ولسمشر اشرف غني او نورو افغان چارواکو او سیاسیونو سره يې د بین الافغاني مذاکراتو او ځای په اړه خبرې کړې دي.
هغه خپل هېواد ته تر ستنېدو وروسته په یوه ټلویزیوني مرکه کې ویلي چې په کابل کې افغان مشرانو ورسره موافقه کړې چې بین الافغاني مذاکرات به د قطر پلازمېنه دوحه کې کیږي.
خو د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي په دې اړه غبرګون ښودلی او ویلي يې دي چې د بین الافغاني مذاکراتو لومړۍ ناسته به قطر کې کیږي. نوموړي په خپله ټویټرپاڼه کې لیکلي، تر اوسه د بین الافغاني مذاکراتو د ځای په اړه کومه



پرېکړه نه ده شوې. درې ورځې وړاندې هم افغان حکومت ویلي وو، چې دوی په کابل کې د طالبانو له پلاوي سره د دې خبرو لپاره د نېټې او ځای پر ټاکلو بوخت دي.
په تېره یوه اونۍ کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو د پیل هیلې زیاتې شوې او په دې لړ کې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازي زلمي خلیلزاد کابل کې له افغان ولسمشر سره کتلي.
همدا راز د پاکستان د پوځ لوی درستیز جنرال قمر جاوېد باجوه د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې او د شخړو د هوارولو لپاره د منځګړیتوب په برخه کې د قطر بهرنیو چارو وزیر ځانګړي استازي مطلق بن ماجد القحطاني هم کابل ته تللي وو.
بلخوا ځینې سرچینې وايي چې بین الافغاني مذاکرات به په څو پړاوونو کې ترسره کېږي، لومړی پړاو يې په قطر، دویم په جرمني، دربیم ناروې، خو دا چې د بریا په صورت کې به لاسلیک چیرې کیږي، تر اوسه پرېکړه نه ده شوې.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵۵ |
| € | ۸۵ |
| Rp. | ٤٧۰ |
| ₹ | ۹۸۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹٤ |

### بېړنی شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily






دوشنبه د ۱۳۹۹ د غبرگولي ۲٦مه | د ۲۰۲۰ د جون ۱۵مه | ۵۵۰مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰٤:٤۲ | ماسپښين ۱۱:۵۲ | مازيگر ۰۳:۳۹ | ماښام ۰۷:۰۲ | ماخوستن ۰۸:٤۲

## نړۍ



په امريکا کې د لاريونونو دويمه څپه؛

## پة اتلانتا کې د يوه بل تور پوستي له وژل کېدو سره سم له تاوتريخوالي ډک لاريونونه پيل شوي

۳

## برني سنډرز: امريکايان بايد ژر تر ژره هېواد د ټرمپ له شره وژغوري



مخکښ امريکايي سناتور برني سنډرز د ټرمپ پر وروستۍ مرکه نيوکه کړې او زياته کړې يې ده چې ټرمپ يو متعصب او عوام فريب انسان دی. نوموړي زياته کړې، چې په دليل يې نه پوهېږي، خو په خبره يې، ټرمپ په لوی لاس په امريکا کې کورني تاوتريخوالي ته لمن وهله چې بالاخره دې هدف ته ورسېد.

سنډرز پر امريکايانو غږ کړی دی چې امريکا د داسې يوه بې مسووليته ولسمشر له شره وژغوري او په خپل يووالي سره ټرمپ ته ماتې ورکړي. دا په داسې حال کې ده چې ټرمپ له فاکس نيوز سره په تازه مرکه کې ويلي، په داسې وخت کې چې د يوه پوليس ژوند له گواښ سره مخ وي، د يوهکس وژنه کوم ستر جنايت نشي بلل کېدای.

د سنډرز دا څرگندونې داسې مهال دي چې امريکا په دې وروستيو کې د کرونا ويروس او په کور دننه کې د تبعيض پر ضد د راولاړو شويو لاريونونو له کبله له سختو ننگونو سره مخ ده. پر امريکا سربېره، د نړۍ په گوټ گوټ کې زرگونه لاريونوال په دغه هېواد کې له تور پوستو سره د تبعيض چلند په غبرگون کې لارو او کوڅو ته راوتلي دي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې نږدې اتو ميليونو ته ورسېدلې

د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې ۷.۹۴ ته رسېدلي دي. دغه راز د ياد ويروس له کبله ۴۳۳ زره او ۹۰۴ کسان مړه شوي او له څلورو ميليونو ډېر بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر بنسټ، متحده ايالتونه د کووېډ- ۱۹ ويروس د ډېرو قربانيانو مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د کرونا ويروس ټولې مثبتې پېښې له دوو ميليونو اوښتې او ۱۱۷ زره او ٦۴۹ امريکايان ترې مړه شوي دي. له امريکا وروسته برازيل د ۸۵۲ زره او ۷۸۵ مثبتو پېښو په درلودو سره دويم، روسيه د ۵۲۸ زره او ۹٦۴ مثبتو پېښو له کبله درېيم، هند د ۳۳۲ زره او ۷۳۹ مثبتو پېښو له اړخه څلورم او برېټانيا د ۲۹۵ زره او ۸۸۹ مثبتو پېښو له کبله پنځم، هغه هېوادونه دي چې د کرونا ويروس تر ټولو زياتې مثبتې پېښې پکې ثبت شوي دي. دغه راز اسپانيا، ايټاليا، پيرو، جرمني او ايران، په ترتيب سره، شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هېوادونه دي چې د دغه ويروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.


## شرکت انکشاف ملی: ۹۵ درصد فابریکات سمنت غوری دوباره فعال گردیده است




شرکت انکشاف ملی می گوید که با فعالیت دوبارۀ ۹۵ فیصد فابریکات سمنت غوری، درکوتاه مدت ۵۰ فیصد نیازمندی بازار های داخلی مرفوع گردیده و در دراز مدت کشور از حالت توریدی به حالت تولیدی مبدل خواهد شد . این اظهارات را جاراللە منصوری رئیس بورد حقوقی و ارتباطات شرکت انکشاف ملی و ریاض الدین شریفی رئیس فاریکه سمنت غور امروز در یک کنفرانس خبری مشترک که در مرکز رسانه های حکومت برگزار شده بود، ابراز داشتند. منصوری گفت، شرکت انکشاف ملی طی فرمان مقام عالی ریاست جمهوری به منظور انسجام و تطبیق هرچه بهتر برنامه ها و پروژه های ملی، ارتقای ظرفیت سکتورهای انکشافی، تسریع روند رشد اقتصادی، انسجام بهتر امور مربوط به شرکت های دولتی مدغم شده و تسهیل انکشاف، در کشور ایجاد گردیده است. وی افزود که فابریکات سمنت غوری که در سال ۱۳۸٦ سکتور خصوصی اداره و مدیریت آن را عهده دار بود، بنابر عدم تطبیق مواد قرار داد، مشکلات و چالشها به بحران اقتصادی مواجه و در نتیجه طی مصوبه شماره ۲۱ ماه اسد ۱۳۹۴ کابینه جمهوری اسلامی افغانستان قرار داد با سکتور خصوصی فسخ و سپس وزارت معادن و پطرولیم متصدی تنظیم و مدیریت امور مربوط به آن گردید. به گفته وی، دیری نگذشته بود که این مسؤلیت به اداره عملیاتی و حمایوی انکشاف ملی ریاست جمهوری سپرده شد، معاونیت عملیاتی و حمایوی این اداره با زحمات شبانه روزی نه تنها دستگاه های فلج شده را دو باره فعال بلکه کیفیت سمنت را که از مارک ۴۰۰ به ۲۰۰ تنزیل یافته بود به مارک ۴۰۰ ارتقاء و سطح تولیدات را از ۱۲۰ تن به ۸۰۰ تن در روز ازدیاد بخشید.


## ژوند

## له ماشوم څخه د يوه لوی انسان تمه مه لرئ!



د گټې حس په ټولو انسانانو کې ډېر پياوړی وي، هغه که ماشوم وي او يا هم لوی. په ماشومانو کې له ۱۸ مياشتو وروسته دغه حس را ژوندی کېږي او غواړي چې له خپل مور او پلار سره په کارونو کې مرسته وکړي. دوی په دې برخه کې ډېر پلټونکي وي، د دوی د کار ارزښت په دې وخت کې ډېر پورته وي. د مور او پلار لپاره لازمه ده چې په دې برخه کې د هغوی په روزلو کې مرسته وکړي او هغوی ته لارښوونه وکړي. د ماشومانو د روزنې کتاب ليکوونکی «پروفيسور راجر ډبليو مکنتاير» په دې اند دی، چې ماشوم بايد په کور کې ځينې مسووليتونه ولري چې له لاندنيو لارو څخه په گټې اخيستنې کولای شي، هغه خپل مسووليت ته متوجه کړئ او تر څنگ يې ورسره مرسته او لارښوونه هم وکړئ. هېڅکله پر ماشوم فشار مه راوړئ چې کار دې په سم او اساسي ډول له کومې تېروتنې پرته ترسره کړي.

## څنگه د بدن د اړتيا وړ ويټامينونه پوره کړو؟




سالم غذايي رژيم کولی شي د انسان د اړتيا وړ ويټامينونه پوره کړي. د هورمونونو بڼې او فيزيولوژيکي شرايطو ته په کتو، نارينه او ښځينه د ويټامينونو بېلابېلو ډولونو او کچې ته اړتيا لري. ويټامينونه د ښې روغتيا لپاره خورا حياتي ارزښت لري. حياتي ارزښت ځکه لري چې له کبله يې د انسان بدن نورماله وده کوي، غذايي مواد په اسانۍ جذب مومي، له ناروغيو مخنيوی کوي او په ټوله کې د بدن مقاومت لوړوي. تر ډېره بدن خپل د اړتيا وړ ويټامينونه (DRI) په ورځني ډول له خپلو خوړو پوره کولی شي، خو ځينې بيا د هغوی د بدن جوړښت ته په کتو او يا هم د ځينو ناروغيو له کبله د اړتيا وړ ويټامين نه شي پوره کولی، نو هغه ده چې بيا د ويټامينونو بستو ته اړتيا لري. د انسان بدن ټولو ويټامينونو ته اړتيا لري، خو ځينې يې بيا ډېر ضروري دي. د بېلگې په توگه، ويټامين (اي) د سترگو د ليد او د بدن د مقاومت د لوړوالي لپاره اړين دي.